# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت

## آمریت اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**13 سرطان _سال 1401**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

متن کامل اخبار ------------------------------------------------------------------------------------------4

په اسلام اباد کې د مهاجرینو اتشې له تورخم دروازې څخه لیدنه وکړه-------------------------------------------------4

بیش ازچهار هزار مهاجرافغان ازایران وپاکستان به وطن برگشت نمود----------------------------------------------5

»آلمان تر سوريايي مهاجرو اوکراینیانو ته بهتر ښه راغلاست ووایه« -------------------------------------------------6

اروپايي ټولنه له افغان ماشومانو سره ۴۰ ملیونه یورو مرسته کوي (دویچه وله) ----------------------------------7

اجازه ی بازگشت مهاجران افغان در روزهای عید تنها با شناسنامه افغانی--------------------------------------------9

ترکیې ته تللي ځینې افغانان رمې پیایي او غواړي وطن ته ستانه شي------------------------------------------------10

# متن کامل اخبار

## په اسلام اباد کې د مهاجرینو اتشې له تورخم دروازې څخه لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



تېره ورځ په اسلام اباد کې د مهاجرینو اتشي ښاغلي محمد اصف په اسلام اباد کې د افغانستان اسلامي امارت سفیر ښاغلي سردار احمد خان شکیب په ملتیا د تورخم دروازې څخه لیدنه وکړه او هلته مسافرو ته د وریښمو ستونزو ارزونه یې وکړه ښاغلي اصف په تورخم کې د مسافرو ستونزې واورېدې او ډاډ یې ورکړ، چې د حل لپاره به یې چټک ګامونه واخلي نوموړي وویل، نن مو هم تر ۱۵۰۰ سوو پورې تذکره لرونکي افغانان واړول او سبا به هم دا لړۍ جریان ولري، نوموړي زیاته کړه، په اسلام اباد کې له افغان سفارت سره یوځای په یوه طرحه او پلان باندې کار کوي، ترڅو په یاده پوله د افغانانو ستونزې اساسي حل او اسانتیاوې رامنځته شي

## بیش ازچهار هزار مهاجرافغان ازایران وپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت




به اساس معلو مات آمریت امورمهاجرین نیمروز چهار هزارو 559 نفر مهاجر، از تاریخ 9 الی 11 سرطان طور اجباری و داوطلبانه ازایران به وطن برگشت نموده اند.

از میان افراد مذکور51 خانواده ، شامل 170 تن و 1884 تن دیگرافراد مجرد بودند که طور جبری و 33 خانواده شامل 117 نفر و 2388 تن مجرد بصورت داوطلب واردکشور شده اند.

**به گفته منبع ازآن میان، 41 خانواده شامل 66 مرد و 83 زن وهمچنان 94 تن مجرد راغرض دریافت کمک، به دفتر IOM معرفی شدند.**

## »آلمان تر سوريايي مهاجرو اوکراینیانو ته بهتر ښه راغلاست ووايه«

دویچه وله

**د آلمان د کورنيو چارو وزيره، نانسي فيزر، وايي هيواد يې په ۲۰۱۵م کال کې د سوريايي مهاجرو په پرتله، سږکال له اوکراين څخه د راغلو مهاجرو ښه هرکلی کړی دی. فيزر افغان مهاجرو سره يې د هيواد د مرستو او خدماتو يادونه هم کړې ده.**



**د آلمان د کورنيو چارو وزيرې وويل، آلمان د روان کال د فبرورۍ له ۲۴مې چې روسيې پر اوکراين پوځي يرغل پيل کړی، تر اوسه اوکراين څخه راغلي له ۸۵۰ زرو ډير مهاجر اخيستي دي. په دغو مهاجرو کې اکثريت يې ښځې او ماشومان دي.**

**خو له دې سره سره آلمان د مهاجرو سره د متفاوت چلند له کبله تر نيوکو لاندې راغلی دی، داسي چې ګواکي دغه هيواد له اروپايي مهاجرو سره ښه چلند کوي نسبت هغو مهاجرو ته چې د منځني ختيځ يا نورو لرو جګړه ځپلو سيمو څخه مهاجر کيږي.**

**د آلمان داخله وزيرې د آلمان خبري آژانس (dpa) سره په يوه مرکه کې وويل: «موږ ډير کارونه په لا ډيره ښه طريقه ترسره کړل، نسبت په ۲۰۱۵م کال کې مو چې د مهاجرو د وروستۍ لوېې څپې پر وخت وکړل.» هغې زياته کړه چې «په**

يو فوق العاده لوی شمير کې آلماني اتباعو» په حکومتي پروګرامونو کې برخه واخيسته تر څو هيواد ته د داخليدونکو خلکو سره مرسته وکړي.

هغې په دې برخه کې د ټولو اروپايي هيوادونو دغه «چټک او له بيوروکراسی پرته «اقدامات يوه «تاريخي بريا» وبښوده. د سوسيال دموکرات ګوند دغې سياستوالي وويل چې «دا يوه ستره لاسته راوړنه وه او همدارنګه د رايو په اتفاق سره هم .او دا سخته وه چې په لاس راوړل شي«.

هغې په عين حال کې وويل چې آلمان او اروپا د نورو سيمو مهاجرو سره هم د مرستو ډير ګامونه پورته کړي دي او زياته ېي کړه چې «موږ تر خپل بشري مسئوليت پورې ژوند کوو«.

دغی آلمانی وزيرې وويل چې په آلمان کې په دغو شوو قدامات کې د ادغام کورسونو ته د نوو مهاجرو لاسرسی هم په بر کې نيسي. هغې آلماني ارزښتنو پر اهميت او د ژبې پر زده کړې ټينګار وکړ حتی د هغو کسانو له پاره چې يوازې په موقتي توګه آلمان کې اوسيږي.

ميرمن فيزر په دې تړاو آلمان ته د راغلو نوو افغانانو يادونه وکړه، چې دغه شرايط ورته وار د مخه مهيا شوی دي.

د تيرکال په اګست مياشت کې په افغانستان کې د جمهوريت له سقوط او واک ته د طالبانو په رسيدلو سره آلمان ګڼ شمير افغانانو ته ځای ورکړ. په دغو افغانانو کې ډيری د آلماني وزارتونو محلي کارکونکي او د هغوی د کورنيو غړي دي. لا هم له افغانستان څخه د هغو افغانانو د انتقال پروسه ادامه لري چې د آلمان حکومت ېې د محافظت وړ بولي او د انتقال ژمنه ېې کړې ده.

## اروپايي ټولنه له افغان ماشومانو سره ۴۰ مليونه يورو مرسته کوي (دويچه وله)

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق (يونيسف) اعلان کړی چې اروپايي ټولنې د افغانستان له ماشومانو سره د مرستې لپاره ۴۰ ميليونه يورو ځانګړې کړې دي. ۲۵ ميليونه يورو به د پوليو واکسين تطبيق لپاره ولګول شي.




د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق (یونیسف) نن یکشنبه د (جولای میاشتې دریمه نیټه) د افغانستان له ماشومانو سره د مرستې لپاره د اروپايي ټولنې له خوا د څلویښت میلیونه یورو مرستې اعلان وکړ.

یونیسف ویلي دي چې ۲۵ میلیونه یورو به د پولیو د واکسین د تطبیق لپاره او ۱۵ میلیونه یورو به په دغه هیواد کې د مهاجرو او راستنیدونکو ماشومانو د ملاتړ لپاره ځانګړې شي.

پر دغو مرستو به یونیسف ۱۸۰ زرو هغو افغان مهاجرو ماشومانو ملاتړ کوي چې له پولو څخه اوړي را اوړي او 10 ملیونه ماشومان به د نړیوال روغتیا سازمان په همکارۍ د پولیو په وړاندې واکسین شي.

یونیسف په افغانستان کې د ماشومانو د وضعیت په اړه د اندېښنې په څرګندولو سره ویلي چې په افغانستان کې د اقتصادي او بشري وضعیت د خرابېدو له امله په دغه هېواد کې ماشومان له تاوتریخوالي او ډول ډول ګواښونو سره مخ دي او د ژوندي پاتې کېدو لپاره يې خواشینونکي پرېکړې کړې دي.

د یونیسف په یوه خبرپاڼه کې راغلي چې په هېواد کې ډېر ماشومان د کار کولو مجبوریت احساسوي او ځینې يې له افغانستانه بهر خطرناک سفرونه غوره کوي.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق د معلوماتو پر بنسټ، تېر کال په افغانستان کې له ۸۸ سلنه کورنیو کې لږ تر لږه یو ماشوم په سختو شرایطو کې له کوره بهر کار کوي.

په افغانستان کې د اروپايي اتحادیې سفیر اندریاس وان برانټ وویل: «د سرحدونو په اوږدو کې د ماشومانو خطرناک سفر، په ځانګړې توګه کله چې دوی یوازې تیرېږي، دغه حالت مهاجر ماشومان د تاوتریخوالي، استعمار او ناوړه ګټه اخیستنې له خطر سره مخ کوي«

هغه ټینګار وکړ چې د همدې لپاره به اروپايي ټولنه له یونیسف سره ۱۵ میلیونه یورو مرسته وکړي څو د هغو هلکانو او نجونو په پیژندلو کې مرسته وکړي چې مرستې ته اړتیا لري. بل چې د هغو ماشومانو لاسنیوی وشي چې د مهاجرت له ګواښ سره مخامخ دي او یا هم بېرته راستانه شوي دي، دغه راز هغو ماشومانو ته چې د کډوالی لاره غوره کوي.

پر دې سربېره اروپايي ټولنې په افغانستان کې د پولیو د واکسین د کمپاین د ملاتړ په موخه له یونیسف او د روغتیا له نړیوال سازمان سره په ټولیزه توګه ۲۵ میلیونه یورو مرسته کړې ده، په ځانګړې توګه د دغه هیواد په سرحدونو کې د هغو ماشومانو لپاره چې تګ راتګ کوي.

په افغانستان کې د یونیسف استازي محمد ایوبي وویل: «افغانستان د نړۍ یو له هغو دوو هیوادونو څخه دی چې پولیو ناروغي لا هم په کې پاتې ده او دا ناروغي هغه وخت خپرېږي چې ماشومان له افغانستان څخه پاکستان ته سفر کوي«.

دا پیسې به د یونیسف او د روغتیا نړیوال سازمان سره مرسته وکړي چې په هیواد کې د پولیو واکسین د هڅو په پیاوړي کولو کې مرسته وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې په هیواد کې ټول ماشومان، په ځانګړې توګه له پولو څخه تیریدونکي ماشومان، د پولیو په وړاندې واکسین شوي دي.

## اجازه ی بازگشت مهاجران افغان در روزهای عید تنها با شناسنامه افغانی

آژانس اطلاعاتی باختر




پاکستان اجازه داد تا افغانها تنها با شناسنامه های افغانی شان به افغانستان بازگردند.

این سهولت تنها برای روز های عید قربان در نظرگرفته شده است.

یک مسئوول کمیساری تورخم در شرق کشور به آژانس باخترگفت که بنابرتلاش های آنان، مقامات پاکستانی اجازه دادند تا افغانها از این کشور تنها با شناسنامه ی افغانی شان مجال بازگشت به کشورشان را داشته باشند.

این رفع محدودیت، باعث خوشحالی شماری زیادی از افغانهای شده است که در پاکستان به سرمی برند و قصد بازگشت به کشورشان را دارند

## ترکیې ته تللي ځيني افغانان رمې پيايي او غواړي وطن ته ستانه شي

د امریکا غږ




د ترکيې د تونجلي سيمې د مرجان درې د غرونو څوکې لا په واورو پوښلي دي. پنځه کلن عبدالله عمري د افغانستان دی او په همدې دره کې رمه پيايي .

عبدالله او په سلګونو نور افغانان دلته د ځايي کروندګرو پسونه او بزې څروي. دوی وايي، دغه غرونه او شنې درې ورته خپل وطن ور په زړه کوي. د تونجلي په دره کې پخوا کردان میشت وو چې د ترکيې د عصري دولت په پيل کې يې د حکومت خلاف بغاوت وکړ او د حکومت له خوا سخت وځپل شول .

اوس په دغه دره کې د کردانو ځای افغانانو نيولی دی. دا هغه افغانان دي چې په افغانستان کې د جګړې او بې وزلی له امله، له ډېرو سختو لارو ترکيې ته راغلي دي .

د عبدالله عمري یو زوړ بادي ټوپک په اوږه دی چې خپله رمه پرې له لېوانو او نور وحشي ځناورو وژغوري .

هغه وایي: "دا اووه کاله کېږي چې په ترکیه کې رمه پیایم. درې کاله مې کار وکړ. بیا افغانستان ته ولاړم. بېرته ترکیې ته راغلم. له هغه راهیسې څلور کاله کېږي چې دلته همدا کار کوم. که مې صحت ښه وو، ان شاالله، په اتمه میاشت کې به بیرته افغانستان ته لاړ شم ."

شل کلن حفیظ هاشمي بل افغان شپونکی دی. هغه وایي: "په افغانستان کې زموږ ژوند ډېر سخت دی. بې وزلي ډېره ده. چې مجبوري نه وي، هیڅوک وطن نه پرېږدي .د همدې دپاره دلته راغلي یو. څاروي پیایو تر څو پیسې پیدا کړو او خپلو کورنیو ته یې ولیږو چې ژوند پرې وکړي ".

حفیظ هاشمي هم وطن ته د ستنېدو په تکل کې دی. هغه زیاتوي: "بل کال بیرته ځم. جګړه ختمه شویده. اوس طالبانو واک اخیستی او جنګ نشته، نو موږ بېرته ځو. کله چې افغان دولت د طالبانو سره جګړه کوله، اقتصاد ته سخت زیان ورسېد .خو اوس موږ د بیرته تلو پلان لرو ".

افغان شپنو دلته پلاستیکي خیمې درولي او په همدې خیمو کې اوسیږي. څو تنه یې د بزو او مېږو په لوشلو بوخت دي، نور بیا رمه را راګرځوي .

د ترکیې جمهور رئیس رجب طیب اردوغان اټکل کوي چې اوسمهال په ترکیه کې ۳۰۰ زره افغانان ژوند کوي .

د تونجلي ځایي اوسیدونکی ۶۷ کلن مصطفی اجون د مېږو له شیدو مستې او پنیر جوړوي. هغه د افغان شپونکیو سره یو ځای کار کوي. اجون وایي چې د سیمې خلک د خپلو رمو د پالنې لپاره له افغانانو سره عادت شوي دي .

مصطفی اجون زیاتوي: "زموږ د سیمې خلک رمې پخپله نه شي ساتلی. ځکه موږ افغان شپنو ته کار ورکوو. حتی زموږ په کورنی کې، زموږ خپل هلکان دا کار نه کوي او نشي یې کولی ".

نه وېشت کلن سلیمان عزام بل افغان دی چې له څلورو کلونو راهیسې یې خپله ښځه او دوو کوچني ماشومان نه دي لیدلی. دی وایي، د خپلو سپیو سره د ترکیې په غرونو کې د رمو څرول به یې تل په یاد وي .

سلیمان عزاموایي: "زما د پسونو پیول خوښیږي. د رمې پیول ښه کار دی. زموږ دپاره آسانه دی. کله چې زه په ایران کې وم، ما به د ساختماني کار کاوه. خو دلته د شپون په توګه کار کوم. دلته هم ساختماني کارونه شته خو معاش یې کم دی. زما غرونه خوښیږي. د ترکیې غرونه ډېر ښکلي دي ."